سراج الحق ببرک زی خُدرانِ

مخدره توکي افغانستان او نړۍ ته سترګوابنې دی

سریزه :

د نړۍ هیڅ هیواد د مخدره توکو له کړکیچ څخه خلاص نه دی. خبره هلته کړکیچنه کیږي، چې یو دولت په خپله د مخدره توکو سوداګري کوي یا که غواړي او که نه غواړي، په دغو غیرقانوني توکو کي مرسته کوي. مخدره توکي د انسان له موجودیت څخه زموږ د کلتور یوه برخه ده. د مخدره توکو د استعمال په اړه د انتیکو له زمانې څخه لیکلي اسناد شته، چې د روغتیا، خوب، دردونو درملنې او نشې لپاره کاریده. هر کلتور خپل مخدره توکو ته وده ورکړي ده. د مخدره توکو ارزښت له یو کلتور نه په بل کلتور کي توپیر لري. لکه الکول یا شراب په لویدیزه نړۍ کي قانوني مخدره توکي دي، خوپه اسلامي هیوادو کي حرام دي. چرس په اسلامي هیوادو کي تر یوې اندازې پورې منلي شوي دي. په لویدیزه نړۍ کي بیا منع دي. اپین چې کابو پنځه زره کاله پخوا استعمالیده، نه یواځې په افغانستان کي بلکې په ټوله نړۍ کي جګړې پرې شوې دي. اوس نړۍ د مخدره توکو په ولکه کي ده. د هروئینو سیل له اسیا څخه، کوکائین له سویلي امریکي څخه، چرس له شمالي افریقا څخه، مصنوعي یا شیمیایي مخدره توکي له اروپایي هیوادوڅخه د نړۍ مارکیټونو ته تولید کیږي. په خوابښینیو سره یې چا تر اوسه مخه نه ده ډب کړې .

د ملګروملتو یا(م م) یو مامور په کابل کي وویل.. په افغانستان کي د کوکنارو کښت د تیر کال په پرتله 59 په سلوکي ډېر شوی دی. دغه کوکنار په 165000 هکتاره ځمکه کي کرل شوي دي. له دی شمیره څخه 6100 ټنه اومه اپین تر لاسه کیږي. دغه اندازه اپین د ټولې نړۍ د اپینو 92 په سلوکي جوړ وي. دغه الرام ورکونکي شمیره ډیره لوړه ده .

د امریکي د بهرنیو چارو وزات په خپل کلنې رپوټ کي د نړیوالو مخدره توکو پرکنټرول لیکي چې ۲۰۰٦ کال په افغانستان کي د تاریاکو کښت خپلې جګې کچې ته رسیدلی دي. په همدې رپوټ کي زیاتوي، چې د کوکنارو د کرلو له ډیریدو سره د افغان دولت مخالفنو او د طالبانو سره جګړه نوره ګرانه شوې ده. د نشه یې توکي تولید د ترهګرو او جنګسالارانو له مهمو سرچینو څخه ګڼل کیږي او د افغانستان په نا امنې کي خورا مهم رول لوبوي. دغه رپوټ چې په ۱۰٤٥ پاڼو کي لیکل شوی دی، د مخدره توکو پروراندې مبارزه کي د نړۍ ۱۲۰ هیوادو حالات په کې څېړل شوي دي. چې افغانستان د نړۍ ۹۰ ٪ هروئین تولیدوي .

۰ ۰ د تاریاکو تاریخ

تاریاک په سویل او لویدیزه اسیا کي له سلګونو کلونو راهیسې کرل کیږي. د کوکنار کرل له ترکیې نه د تایلند تر شماله پورې په۷۰۰۰ کیلومتره اوږده سیمه کي کرل کیږي. له کوکنارو څخه اومه اپین ترلاسه کیږي. له اپینو څخه مورفین، له مورفین څخه هروئین جوړیږي. مورفین او هروئین د لویدیزې نوې نړۍ معصول دي. په ۱۸۰۵ کال کي د لومړي ځل لپاره د اومه اپینو څخه مورفین کشف شول. په ۱۸۷٤ کال کي انګریزي کیمیاپو مارفین د سرکې اسیډو سره یو ځای کړل، هروئین ترلاسه شول. د فارمسي په صنعت کي مارفین هم استعمال شول. د هروئینو روږدي کیدو په وجه په ۱۹۲۵ کال د ژینوا کنوانسیون شدید کنټرول د هروئینو پر تولید او سوداګري ولګاوه.
په ۲۰۰۲ کال کي د UNDCP یوه شمیره ښیي، کابو ۱۸۵ میلیونه انسانان غیر قانوني مخدره توکي استعمالوي. د قانوني مخدره توکو لکه سګریټ، تنباکو او الکول د غیر قانوني مخدره توکو څخه انسانانو ته لږ ګوابنناکه نه دي.
قانوني مخدره توکو اغیزه ورو ورو او ارزانه توکي دي. د درندو مخدره توکو په پر تله په ټولنه کي منلي شوي سپک مخدره توکي لکه چاي، کافي، سګریټ، الکول یا شراب د ډیرو ناروغیو او وژنې سبب ګرځي. اپین، مارفین، هروئین د درندو مخدره توکو څخه دي او چرس، بنګ او ماریوانه د سپکو مخدره توکو څخه ګڼل کیږي .
د نړۍ تر ټولو لوی اپین تولیدونکي هیوادونه د سروزرو مثلث د برما، لاوس، تایلند او چین هیوادو سرحدي سیمې دي. دلته د تاریاکو کښت، تولید له ډیرو وختو شتون لري او هروئین نړیوال مارکیټ ته له همدغو سیمو څخه لاس ته راتلل. د افغانستان د تاریاکود کرلو او تولید له امله اوس مهال دلته د نړیوالو لږ پام کیږي. د سروزرو میاشت د افغانستان، پاکستان او ایران هیوادونه دي. په افغانستان کي د اپینو غیرقانوني کر، تولید او قاچاق په دغه کچه یوه نوې پدیده ده. په افغانستان کي د کوکنارو کښت له بهرنیانو سره د خپلواکي او کورنۍ جګړو پر مهال وده وکړه. په ۱۹۷۹ کال کي د پخواني شوروي اتحاد له پوځي یرغل څخه راپدیخوا مخدره توکي او جګړې په افغانستان کي سره نه بیلودونکي دي. د امریکایانو د ب ۵۲ جنګي الوتکو تر سیوري لاندې د شمالي ټلوالي واک ته رسیدو سره د کوکنارو کښت یو ځل بیا په چټکتیا سره وده وکړه. د حکومت له بدلیدو سره سم د مخدره توکو قاچاقورنکي ازاد شول او امریکي د مخدره توکو کنټرول په کابل کي یوې ډلې ته په لاس کي ورکړ .اوسني منتخب حکومت نه وسایل لري او نه ریښتیني لیوالتیا لري چې

د مخدره توکو تولید، قاچاق او سوداګري پر وړاندي لاري چاري ولټوي. له بلې خوا د حکومت غړي په خپله له دغې سوداګري څخه ګټه پورته کوي. له همدي امله افغانستان دوه کاله وروسته د طالبانو له نسکوريدو څخه ، په نړۍ کې تر ټولو لوی مخدره توکوهیواد یا د تاریاکو دولت وګرځیدو .

۱ .مغولي امپراتوري

د مغولو په امپراتوري کې د تاریاکو کر له ۱۶۰۰ تر ۱۷۰۰ کالونو کې په مرکزي او ختیز هندي سیمو کې کرل کیده، چې د یاد ولو وړهم نه دي. د ۱۷۵۰ نه تر ۱۹۵۰ کالونو کې انګریزانو خلک د اپینو کر او تولید ته وهڅول، دوی غوښتل اپین چین ته قاچاق او صادر کړي. په همدي ترڅ کې اپین په هند کې په یو اړخیزه کولتور وګرځېده، د خوراکي توکو او میوي کر ته چا پام نه کاوه او په ورکیدو شول. انګریزانو غوښتل د چینایي وریښمین، چاي او نورو ګرانو توکو په بدل کې پیسي نه بلکې اپین ور کړي. په ۱۷۲۷ کال کې ۱۳ ټنه، په ۱۷۶۷ کال کې پنځه ځله نورډیر شول، په ۱۸۲۰ کال کې ۶۷۰ ټنه، په ۱۸۳۸ کال کې ۲۶۸۰ ټنه اپین چین ته قاچاق کړل. دغه شمیره هغه مهال د نړۍ د اقتصاد یوه ستره برخه وه. کله چې چینایي مامورینو ۹۵۰ ټنه اپین له منځه یوړل، انګریزانو د اپینولومړني جګړه پیل ګړه. د جګړې په پای کې هانګ کانګ او پنځه نور چینایي بندرونه د انګریزانو لخوا ونیول شول. د اپینو صادرات له هند څخه په بیړیو کې چین ته په ۱۸۸۰ کال ۷۰۰۰ ټنو ته ورسیدل او له همدي سره د اپینو قاچاق خپلې لوړې کچې ته ورسیدل. په چین کې کابو شلو میلیونه ډیر چینایان په اپینو روږدي و. دغو چټلو، قاچاقي اوغیر قانوني پیسو دهندي ختیزي کمپنې په مرسته د انګلستان نړیواله امپراتوري نوره هم ټینګه او په پښو ودروله.

۲ .هندوستان

نن هند یواځنې اسیایي هیواد دی، چې اپین په قانوني او دودیزه توګه په کې کرل کیږي. دهند په دوو سیمو ۱ . Madyapradesh، ۲ Mandsaur . او Chittor کې اټکل پر 2300 هکتاره ځمکه باندې هر کال کوکنار کرل کیږي، چې تولید یې ۱۰۰۰ ټنو ته رسیږي. کروندګر اپین په خپله پر حکومت پلوري. دغه لار د کنټرول یواځنې اسانه لار ده. (1)

۳ . چین

په ۱۹۹۰ کال کې د م م له خوا د مخدره توکو پر وړاندي نړیوال پروګرام UNDCP بنسټ کیښودل شو. یو کال وروسته یې پر خپلې دندې کار پیل کړ. دغه پروګرام د نړیوالو مخدره توکو پر کنټرول کار کوي. د مخدره توکو کر، استعمال او سوداګري څاري. د نړیوالو مخدره توکو ټرونونه کنټرول او سمبالوي.
م م هر کال د جون شپږویشتمه په ټوله نړۍ کې د مخدره توکو پر وړاندي د مبارزې ورځ اعلان کړي ده.
چین تېر کال په همدي ورځ د مخدره توکو پر وړاندي د خپل جدي او سختي مبارزې ښودلو سره ۲۹ کسه اعدام کړل. د پنځوسو ګرامو هروئینو په نیولو سره د اعدام جزا په چین کې صادره کیږي. په لږو توکو نیولو سره د عمري قید جزا ټاکل کیږي. له همدوغو شدیدو قوانینو سره چین په نړۍ کې د مخدره توکو تولید یو ځواکمن هیواد ګڼل کیږي. د بیلګې په توګه په چین کېAmphetamin ، Ecstasyتولیدیږي، چې د ډیرو ګوابنساکو مخدره توکو څخه دي .

۴ . پاکستان

په ۱۹٤۷ کال دهند او پاکستان له ویشلو وروسته، پاکستان له هند څخه خپل د اړتیا وړ اپین وارد ول. په پاکستان کې اټکل سل زره کیسه په اپینو روږدي وو. پاکستان په قانوني توګه دغه نشه یې توکي ورته ور ورسول. له ۱۹۵۰ کلونو راپه دي خوا د سرحد یا پښتونخوا ایالت په ځینو سیمو کې چې د دولت ترکنټرول لاندي وي، اپین په ټاکلي اندازه تولید یدل. له همدي سره په قبائیلي یا د ډیورنډ کرښې ځیرمو سیمو ته په غیرقانوني توګه د اپینو کر پیل شو .په ۱۹۷۹ کال په خیبر، مومند، باجوړ، او دیر یا Federally Administered Treibal Areas کې د اپینو کښت او تولید ۸۰۰ متري ټنه کچه ته لوړ شو .
دغه هیواد په همدي کلونو کې اټکل ۱،۵ میلیونه د هروئینو روږدي او ۱۷۰۰۰۰ د اپینو روږدي لرلو. (۲)
پاکستان هر کال ۸۰ ټنه خالص هروئین او ۲۰۰ ټنه اپین ته اړ و. پاکستان خپله هر کال ۳۰ ټنه هروئین تولید لرلو. پاتې یې مجبور وه چې له بهر نه وارد کړي .اروپایي مارکیټونو ته په پر تله د دغې شمیرې پنځمه برخه کافي وه. د اپینو یوه لویه برخه د افغانستان په شمال ختیز کې تولیدېزي، بیا په قبائیلي سیمو کې په هروئینو اړ ول کیږي. له پاکستان څخه بیا بهر ته صادر یږي. اوس پاکستان څلور میلیونه د مخدره او نشه یې توکو وړدي لري .

تر ۱۹۷۹ کال پوري پاکستان د اپینو لوی تولیدوونکي هیواد و. دغه رول اوس د افغانستان او قبایلي سیمو یا پښتونستان په لاس کې دي. پاکستان د مخدره توکو په حالاتو کې له افغانستان څخه دري واري نور ډیر اهمیت لري.

ځکه پاکستان د افغانستان اپینو لپاره په خپله یو لوی مارکیټ دي. له ۱۹۷۹ کلونو نه را پدیخوا د افغانستان او پاکستان ترمنځه سیمو کي د سي آی اي او اي اس اي له خوا د هروئینو لابراتوارونه جوړکړل شول. د هروئینو سوداګري د سي آی اي چارواکو له خوا کنټرول کیدل. د افغانستان په خاوره کي مجاهدین او کروند ګر هڅول کیدل، چې د اپینو مالیه د انقلاب بري لپاره وکار وي. د پاکستان اوافغانستان ترمنځه په قبایلي سیمو کي د اي اس اي تر کنټرل او څارنې لاندي په سلګونو هروئینو کارخانې چلیږي. په دغه ازاده سوداګري لړئ کي د متحده ایالاتو د مخدره توکو سیمه ییزه ایجنسي US.Drug Inforcement Agency په اسلام اباد کي هیڅ نوع ګوتنیونه ونه کړه،چې دغه مخدره توکي ظبط شي، څوک ونیول شي یا د پاکستان پرحکومت نیوکه وکړي چې په دی لاره کي پاتي راغلي دي .

په ۱۹۹۵ کال کي د افغانستان عملیاتو د سي آی اي مشر ښاغلي Charles Gogan ومنله چې سي آی اي د مخدره توکو جګړه د سړه جنګ قرباني کړه. دی وایي. موږ مجبوره وو، چې شوروي اتحاد ته چې څومره وي خساره ورواړوو. زمونږ سره دا شونې نه وه، چې د مخدره توکو پر وړاندي هم جګړه وکړو. موږ خپله موخه ترلاسه کړه. شوروي په افغانستان کي مات شو.

د هند حکومت د څیړنو له مخه د پاکستان د هروئینو سوداګري په ۱۹۹۰ کال کي بوولس میلیارده ډالرو ته وخته، چې د حکومت له کالني بودیجي څخه ډیره وه. ښایه دی تور او تریاکو اقتصاد څخه به پاکستان په لسو کالونو کي له منځه تللي واي. د سړي جګړي نه ورسته په پاکستان کي نه د هیروئینو سوداګري او نه د ترهګرو کمپونه وترل شول. ورسره سیمه او د منځني اسیا جمهوریتونه بې ثباته شول او پاکستان به په نوي ځوکالونو کي هم دغو پیسو ته ددیرشو میلیاردو ډالرو څخه ډیري وسلې واخیستې. (۳)

۵ .ایران

تر ۱۹۷۹ کاله ایران هم د اپینو اوهروئینو د صادرولو یوهیواد و. ورسره په ملی کچه یو له هغو هیوادو څخه و، چې ډیر اپین په کي استعمالیدل. له همدي کاله وروسته اسلامي حکومت د مخدره او نشه یي توکو پروړاندي کلک ګامونه پورته کړل.

په ۱۹۸۸ کال کي د مخدره توکو ضد قانون نافذ شو. له قانون څخه په لږ تخطي سره د پیسو جریمي، په دورو وهل، زندان قید اوجزا ګاني ټاکل شوي وي.

په دي وروستیو کلونو کي ایراني حکومت خپل کنټرول د پاکستان او افغانستان پر پولو نورهم تینګ کړي دي، چې د قاچاق وړنکو مخه دب کړي. ایران په نړی کي تر ټولو ډیر اپین او مخدره توکي نیولي او ظبط کړي دي. ایران له همدي ټینګ کنټرول سره د اپینو ترانزیت خورا مهم هیواد دي، چې له افغانستان او پاکستان څخه اروپا ته اپین او هروئین قاچاق کیږي.

اپین د افغانستان، پاکستان او ایران پرسرحدي سیموکي مارفینو ته اړول کیږي، بیا په همدي دول منځني ختیځ او ترکیې ته وړل یا قاچاق کیږي او په اروپایي مارکیټونو کي پلورل کیږي.

ایران اټکل ۲۰۰۰۰۰ هروئینو روږدي او ٤۰۰۰۰۰ د اپینو روږدي لري. ایران په خپله د اپینو یو لوی مارکیټ دی.

په ۱۹۹٤ کال کي م م، ایران او پاکستان دهمکاري یو ټرون لاسلیک کړ، چې په خپلو پولو کي د مخدره او نشه یي توکو قاچاق مخنیوی وکړي . (٤)

د امریکي د بهرنیو چارو وزارت په رپوټ کي چې د م م د څیړنو پر بنسټ جوړ شوي دي. ویل کیږي، ۸،۲ ٪ ایرانیان د ۱۵ نه تر ٦٤ کلن عمر مخدره توکي استعمالوي او ورسره زیاتوي چې په ټولنیزه توګه د مخدره توکو استعمالونکي په ایران کي د امریکي په پرتله پنځه ځله ډیر او د نړی له نورو هیوادو څخه په جګه کچه استعمالیږي. په رپوټ کي دغه راز زیاتوي چې د ایران امنیتي ځواکونه د نیول شویو مخدره توکو ډیرښه پوهولي دي چې د مخدره توکو قاچاق وړونکي پوهیږي چې په ایران کي د استعمال کچه مخ په وده ده اوله دغي مارکیټ څخه ناوړه ګته پورته کوي. د امریکي د بهرنیو چارو وزارت تائید وي، چې ٦۰ ٪ مخدره توکي له افغانستان څخه ایران ته وروړل کیږي او ډیر یې په هماغه هیواد کي مصرف کیږي، پاتي یا روسیې ته او اروپا ته قاچاق کیږي.

د همدي رپوټ په بل ځاي کي لیکي. په ایران کي ۹۳ ٪ د مخدره توکو روږدي نارینه او د ٦ تر ۳۳ کلونو عمر لري. د امریکي د بهرنیو چارو وزارت د ایران مخدره توکو قاچاق پروړاندي هڅې او مبارزه ستایي او ورسره زیاتوي چې دغه هیواد د نړیوالې همکاري ټرون ځینې برخې نه دي منلې. په ایران کي په تیرو لسو کلونوکي د ۱۰۰۰۰ څخه ډیر د مخدره توکو قاچاق وړونکي په اعدام محکوم شوي دي. له دی سره هروئین د تهران ښار په واټونوکي د یو قوطیې یا دوبي سګرتو څخه ارزانه تر لاسه کیږي .

۶ د پخواني شوروي اتحاد جمهوریتونونه

دغه هیوادونه نوي موقتي او ضعیف امنیتي اورګانونه لري. د مخدره توکو د تولید او قاچاق له امله د دوی کړکیچونه نور هم ډیر شوي دي. لکه بډي اخیستل، د مخدره توکو مافیایي تنظیم شوي باندونه، ضعیف عامه موسسات، اجرائیه او

قضائیه ځواکونه له منځه وړل، له مخدره توکو سره نور ګرندي شوي دي. د حکومت ولسي اعتبار يې راتيټ کړی دی. د اسيا مرکزي جمهوريتونه په خپله يوه کمه اندازه اپين توليده وي. د بنګو بوټي بيا په دوديزه توګه خورا ډير کښت کيږي. په دي ورستيو کلونو کي دغه هيوادونه له افغانستان څخه ورتلونکي مخدره توکو ډير ضعيف کړي دي. د تاريا‌کو قاچاق په افغانستان کي د مرکزي اسيا سياسي او اقتصادي ودي، ثبات او ټولي سيمي ته يو لوي ګواښ رامنځته کړي دی. که څه هم د مرکزي اسيا ترانزيټي لاري د ايران په پرتله خورا کم ارزښت لري.

۷ افغانستان

په افغانستان کي له ډير مودي څخه د کوکنارو کښت دود دي. پر ته له دي چي د اپينو د صادراتو يو هيواد وي .
په ۱۹٤٤ کال کي افغان شاهي دولت د غير قانوني اپينو کر، توليد، قاچاق او استعمال پر وړاندي يو شمير قوانين نافذ کړل. له ۱۹۷۱ کاله تر ۱۹۷۲ کاله يوه ځيرنه ښيي، د غير قانوني اپينو کښت په ننګرهار، بدخشان، بلخ، هلمند او کونړ کي ثابته کړه چي د اپينود توليد شميره د ښودلو نه وه. وروسته په بله ځيرنه کي دغه شميره په هر کال کي ۲۰۰ ټنه اپين وښودل شوه. خو د دغو ځيرنو او شميرو په اړه کوم ثبوت نه وښودل شوی. (٥) ۱۹۷۹ کال افغانستان او سيمي ته د مخدره توکو د حالاتو لپاره يو ډير ټاکونکي کال وه.
په ايران کي شاه نسکور شو، اسلامي جمهوريت رامنځته شو. اسلامي رژيم د مخدره او نشه يي توکو توليد، سوداګري، قاچاق او استعمال پروړاندي ډير شديد ګامونه واخستل. په ايران کي ميشت د مخدره توکو قاچاق وړونکي ترکيي او پاکستان ته وتښتيدل.
په افغانستان کي پخواني شوروي اتحاد پوځي يرغل وکړ، چي له همدې امله کليوالي سيمي د دولت او قانون له کنټروله ووتلي. د دوديزه سوداګري او ترانسپورټ سيستم په ټپه ودريده. په افغانستان کي د جګړي له امله خوارځواکي خپل ټغر په ولسي خلکو کي وغوړولو. د مخدره توکو د کښت، توليد اوسوداګري بنسټ کښودل شو.

په پاکستان کي د اپينو کر قانوني توليد او پرنورو الکولي نشه يي توکو باندي بنديز ولګيدو.
په ترکيه کي لا له دي نه مخکي د مخدره توکو پرغيرقانوني توليد باندي سخت بنديز لګيدلي و.

پايله کي په افغانستان کي د مخدره توکو کښت او توليد کچه جکه شوه. ورسره په قبائيلي سيموکي ورو ورو د اپينو او هرئينو توليد وسعت وموند. په خپله پاکستان کي د هرئينو استعمال په ډيريدو شو.
اوس مهال پاکستان د نړۍ يو ستر هيواد دی، چي هروئين په کي استعماليږی. د مخدره توکو کړکېچ کال په کال له کنټروله په وتو دي .

په افغانستان کي د مخدره توکو روږدو رسمي شميره نشته، د م م UNODC او د مخدره توکو پروړاندي وزارت په يوه ځيرنه کي ښودل کيږي چي ۹۲۰۰۰۰ کسه په مخدره توکو روږدي دي. د ټول هيواد وګړيزو شميري ته په کتو سره ۳،۸ ٪ روږدي شته. له پورتنيو شميرو څخه د افغان ولس حالات جوتيږي. مخدره توکو او نشه يي توکو زمور ټولنه يرغمل کړي ده. په افغانستان کي د مخدره توکو د روږدي يوي ټولني بنسټ کيښودل شوي دي. د نشه يي توکو د توليد کچه د پخوا په پرتله نوره هم لوړه شوي ده او اغيزه يي اوس تر ماشومانو غځيدلي ده. ماشومان دراتلونکي لپاره د هرهيواد مټي دي. ځوانان د هرهيواد ژوندئ پانکه ده .حکومتونه مجبور دي چي د خپل هيواد د دغي ژوندئ پانګي رښت ، حقوق او روغتيا وساتي .

۸ . طالبان او کوکنار

په ۲۰۰۱ کال کي طالبانو په داسي حال کي د کوکنارو پر کښت کلک بنديز ولګاوه چي کورني او بهرني جګړه ييز او اقتصادي فشارونه پري ډيروو. دوی د کوکنارو پر کښت جزاوتاکله .

تونې بلير پر افغانستان د انګريزانوله برید څخه مخکي په هغه وخت کي چي طالبانو د کوکناو کښت او توليد صفر ته رسولي و، وويل. دغه هروئين زمور په واټونو کي زمور ماشومان راوژني له افغانستان څخه راځي. چي شايد لږ رښتيا په کي وي. اوس د امريکي، انګريزانو او ناټو پر کنټرول سيمو کي د دوي د پوځي ادو څخه لس کيلومتره لري چي هلته طالب هيڅ نشته، کوکنار کښت په حيرانوونکي ډول ولاړ دي .

انګريزي ورځپاڼه) The Guardian ٦ (ورځپاڼه ليکي. افغان طالبانو په ۲۰۰۱ کال کې د مخدره توکو پر کر بند يز لګولي دی او د امريکي پوځي بريد سره به د کوکنارو بنديز لری کړل شي. ډيرو راپورنو دا تائيد کړي، چې کوکنار له پنځه برخې نه يوې برخې ته راټيت شوي دي.

په افغانستان کې د طالبانو له خوا د کوکنارو پر کر بنديز لګيدو سره م م د مخدره توکو په اړه په خپل سياست کې دا د يو لوي بري او لاسته راوړني په توګه ياد کړ او ستاينه يې وکړه. طالبانو ته په لومړي سر کې په جګړو اوبيا د دوي حکومت په رسميت نه پيژندلو، د لويديز اقتصادي محاصره، له عربي هيوادو څخه نقدي پيسې بنديدل او شمالي ټلوالي ته مرستې، بل الترنتيف نه و پاتې ښله دی چې د مخدره توکو له کر څخه پيسې تر لاسه کړي. طالبانو له نړيوالو اقتصادي بنديزونو سره سره د کوکنارو پر کر بنديز ولګاه، خو د طالبانو له سقوط سره د ۲۰۰۲ کال په اپريل کې د اپينو يو بل فصل ولاړ و.

٧Finalcial Timas) (ورځپاڼې د رپوټ له مخې د امريکې پر حکومت ډيرو اروپايي هيوادو ږغ وکړ، چې په افغانستان کې د مخدره توکو پر وړاندې ګډه مبارزه پيل کړی، امريکايانو د دوي ږغ له پامه وغورځاوه. د اروپايي ديپلوماتانو تصور داسي و، چې د افغانستان هروئين اروپا ته نه ، امريکې ته قاچاق کيږي .
د اروپايي ټولنې او امريکې ترمنځ د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه کې توپير شته. اروپايان غواړي کروندګرخپل کړي. دوي ته داپينو بديل کښت په لاس ورکړي. امريکايان بيا خپل د مخدره توکو له منځه وړلو پروګرام او جګړه نوره پيا وړي کوي .



د افغانستان ګرافي احصائيه د م م له پلټنو او څيړنو له مخې ترسره شوې ده. ګراف د ۲۰۰۱ کال د اتو زرو هکټارو کوکنارو کر د شمالي ټلوالي تر واک لاندې سيمې ور ښيي. کله چې طالبانو د دوي نوري سيمې لاندې کړې، د غه شميره نوره هم راټيته شوه.

په افغانستان کې د امريکې او ناټو واک ته رسيدو سره سم مخدره توکې ګراف په سرعت لکه يو توغندي په وجګيدو شو او دغه الارم لا غلي شوي نه دي.

۹ افغانستان او د نړيوالو هروئينو انحصار

افغانستان د امريکايي او ناټو تر پوځي مشرئ لاندې د هروئينو د نړيوال مارکيټ مشري کوي. افغانستان اټکل ۹۰ ٪ هروئين چې ٤۰۰۰ ټنه کيږي، دهروئينو نړيوال مارکيټ ته صادروي. له دغې شميرې نه ۹۹ ٪ اروپا ته قاچاق کيږي. په افغانستان کې د کوکنارو په کښت کې تير کال د نورو کلونو په پرتله ډيروالي راغلی دی. افغان بزګرانو په ۱۷۳۰۰۰ هکتاره ځمکه کې کوکنار کرلي وو، چې اپين ترې جوړيږي. دا د ۲۰۰۵ کال په پرتله ٦۰ ٪ ډيروالي دي. دغه شميره د امريکې د بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو په رپوټ کې هم راغلې ده .
پوښتنه دا ده چې څنګه په يو هيواد کې چې له پينځه کلو راهيسې په کې د لويديزې نړۍ او د ناټو پوځي، اقتصادي اوسياسي ځواک شتون لري؟ په افغانستان کې دوه شپيته هيوادونه د بيارغوني چارې سر ته رسوي، په دغه اندازه زړه بوګنوونکې کچه مخدره توکې يا تاريک وده وکړي ؟ له افغانستان څخه د تاريکو دولت جوړ شوي، چې د اروپا او نړۍ هروئين تمويله کړي. دا په دې مانا چې د مخدره توکو کنټرول په عملي توګه له کنټروله وتلي دي. بل لامل به يې دا وي، په اروپا کې د هيروئينو مارکيټ غوښتنه ډيره شوي ده، چې د افغانستان د کوکنارو کښت او ډيروالي ته يې لاره هواره کړي ده. دغه دواړه لاملونه د افغانستان پر سياسي، پوځي، اقتصادي، امنيتي او ټولنيزو برخو باندې خوارا ناوړه اغيزه ښندلي ده.

۱۰ کوکنار او جنګسالاران

سره له دي چې په افغانستان کې د نشه يي توکود کر، توليد او قاچاق د مخنيوي لپاره دولت او نړيوالي ټولنې هڅې پيل کړي دي، خو د نشه يي توکو او جرمونو پر ضد د مبارزې د اداري د سروې له مخې په روان لمريز کال کې د افغانستان په ۲۸ ولايتونو کې چې زياتره د هيواد په جنوب کې پراته دي ۶۱۰۰ ټنه تريياک توليد شوي چې دا د تيرو کلونو په پرتله د افغانستان د کوکنارو په کر کې په سلو کې شپيته زياتوالی ښيي. کارپوهان په هيواد کې د نا امنۍ ستر لامل د مخدره موادود کر توليد او قاچاق بولي. د دوی په اند: د دولت مخالفين د هيروئينو او اپينو د ډيرو پيسو د لاسته راوړلو سره د دولت په وړاندې د بريدونو او مبارزې وړتيا پيدا کوي او د هيواد په بيلا بيلو سيمو کې د نا امنيو او ګډوډيو د رامنځته کيدلو لامل ګرځي. په دغه برخه کې د افغان دولت د مخدره توکو کړنلاره او سياست ناکامه شوي دی. هيڅ کومه معقوله عملي نوي ملي استراتيژي د دغې نړيوال کړکيچ لپاره نه لري .

يو الماني سياستپوه (٦) ناټو ته وړانديز کوي، چې ناټو بايد د افغانستان په استراتيژي کې ژور بدلون راولي. چې په دې ډول دغه بې ثباته حالت په افغانستان کې بدلون ومومي. دي اوسني حالات په سويلي او ختيځ افغانستان کې راتلونکي ته په کتنې سره په ډيره ګوابنناکو حالاتو سره ارزوي. په خواشيني سره وايي چې ناټو تېر کال د نوامبر په نويشتمه د ريګاه ښار په غونډه کې په افغانستان کې د هيڅ ډول بدلون پرېکړه ونه کړه. دغه سياستپوه وايي. ناټو په تېرو څو مياشتو کې ٤٠٠٠ هوايي بريدونه ترسره کړي دي چې دا په خپله د دغه هيواد حالات څرګندوي. عامو ملکي وګړوته د بيا رغوني د کارونو څرک نه لګيږي او مرستې اړو خلکو ته نه ورسيږي. بهرنيو سرتېرو خپل اعتباراو سمپاتي په سويلي وګړو کې له لاسه ورکړي ده.
ناټو بايد خپل دريځ افغان ولس ته جوت او ثابت کړي چې يرغلګر ځواک نه دي، بلکې د افغانستان د راتلونکي لپاره يو مرسته کوونکي او همکار ځواک دي.
د المان د هامبورګ ښار موتبره مجله شترن Stern ۳۸ ګڼه، ۲۰۰٦ کال کې ليکي. د افغانستان د کورنيوچارو وزارت مرستيال جنرال داود چې د مخدره توکو او جرايمو پر وړاندې دمبارزې څانګه پرمخ بيايي. دی په خپله د مخدره توکو په سوداګري او قاچاقو کې لاس لري. الماني چارواکي د داود په ډبل رول ښه پوهيږي. دغه مجله ليکي. دوی ته نږدې عيني شاهدانو پخلی کړي دي، چې د جنرال داود له خوا کشف شوي او نيول شوي هروئين دي ظبط شي، دهغه نه وروسته هروئين د جنرال داود په امر په سيستماتيک ډول بيا خرڅيږي. داسي اسناد هم شته، چې د داود له خوا د شمالي ټلوالي يو قوماندان ته په ليکلي ډول امرشوي دي چې نيول شوي مخدره توکي يا تاريک په خپلو کې سره وويشي.

همدغه شترن مجله د المان د دفاع وزير ښاغلي يونګ سره مرکه کې دغه موضوع څيړي .وزير وايي.د المان امنيتي چارواکي د کورنيو چارو وزارت مرستيال د مخدره توکو په ښکېلتوب پوهيږي. پلان داسي وه، چې جنرال داود ترڅنګ يو الماني مشاور کښيني. د المان سياسي ملحوظاتو له امله دغه موضوع رد شوه. مسوول څوک دي؟ امريکه او د ناټو هيوادونه دغه دواړو نيوکګر ځواکونو له افغانستان څخه د تارياکو دولت جوړ کړي دي .امريکايان د شمالي ټلوالي جنګسالارو ته اړتيا لري. جنګسالاران سياسي واک او پوځي واک د مخدره توکو په قاچاق کې لري. د مرکزي حکومت له اوامرو څخه اطاعت نه کوي ورسره خپلې مليشي په سيمه کې تقويه کوي. شمالي ټلوالي ځان پر امريکايانو خرڅ کړ . امريکايان د جنګسالارانو مخدره توکو توليد او قاچاق زغملي دي. امريکايانو او ناټو په يوه ارزانه ځغلنده جګړه او ارزانه ځغلنده سولې هڅه کې ناکامه شوي دي .

۱۱ د کولمبيا پلان

کولمبيا د مخ په ودو هيوادو څخه يو مخ په وده هيواد دی، چې د ګاونديو هيوادو په پرتله په کې ولسواکئ وده کړې. په ۲۰۰۰ کال کې د کولمبيا پلان د امريکې د کانګرس له خوا د ۱،۳ ميليونو ډالرو مرستو تصويب وشو. چې۸۰ ٪ پوځي مرستې وی. له دغو ډالرو څخه نيمايي مرمي او جګړيزي چورلکي واخيستلې شوې، دغه پيسې د امريکې د پوځي وسلو فابريکو ته وبهېدې. امريکايانو ته د کولمبيا پلان په پنځه کلونو کې له دري ميلياردو ډالرو څخه ګران تمام شو. د دغه پلان موخه دا وه چې د مخدره توکو توليد په کولمبيا کې له منځه يوسي. د الوتکو په ذريعه له هوا څخه د کوکا پر بوټو زهر وشيندي. د کولمبيا حکومت په نښه وويل. چې دوي به زهر يا زهري توکي پر کوکا کروندې ونه شيندی.
دا توکي چې Fusarium Oxysporum نومېږي د امريکايي متخصيصينو له خوا د امازون ځنګلو لپاره يو ګواښ وګڼل شو. دغه کيمياوي توکي د بوټو ريښې له منځه وړي او تر څلويشتو کلونو لپاره په ځمکه کې پاتې کيږي. چې په ډير چټکتيا سره په ځمکه کې خپريږي .
د م م يا UNDCP مشر پر کوکا او کوکنارو بوټو باندې دزهرو شيندل رد کړل.
د دغې هوايي زهرشيندنو په بريدونو کې د مخدره توکو کر نور هم ډير شو. د دغې زهرو يا کيمياوي توکو په استعمال سره د انسانانو پر روغتيا ډيره ناوړه اغيزه وکړه. په خاصه توګه پر ماشومانو، ځاړويو، کښانو، نباتاتو، او چاپيريال

باندي جوته شوه. د کولمبيا پلان نه يوازي د مخدره توکو د له منځه وړلو لپاره جوړ شوي و. امريکايانو غوښتل چې له يوې خوا ګڼ اړخه ګوريلا جنګي ډله کنټرول کړي او له بله خوا د امريکي پوځ په سويلي امريکي کې تقويه کړي. د کولمبيا پلان له يوې خوا په هيواد کې جګړې ته د سولې مرسته ونه کړه، له بلې خوا مخدره توکو توليد راټيت هم نه شو. په بهرني سياست کې دغه پلان د امريکي امنيتي ليوالتيا لپاره و. شپارس کيلو ګرامه کوکائين په هغو الوتکو کې ونيول شول، چې په کولمبيا کې يې له امريکي هوايي پوځي اډو نه امريکي ته الوتنې کولې. کابو شپږ ميليونه امريکايانو ته هر کال لږ تر لږه د ٤٦ ميلياردو ډالرو کوکائين او هروئين له کولمبيا څخه په قاچاقي توګه راځي .

١٢ .په افغانستان کې بيولوژيکي جګړه ديباته برخې د لوستلو له پاره داځای کلیک کړئ

١٢ .په افغانستان کې بيولوژيکي جګړه

انګريزانو په افغانستان کې د بن تړون له مخې د مخدره توکو پروړاندې د مبارزې مشري دندې خپله ترلاسه کړې ده. انګريزان په دغه برخه کې نړيوالې تجربې لري. متحده ايالات هڅه کوي چې په کولمبيا او اسيا کې د کوکا او کوکنارو بوټو لويې کروندې باندې له هوا نه بيالوژيکي وسله وکار وي، تر څو دغه بوټې له منځه يو سي. انګريزانو او امريکايانو د UNDCP نړيوال سازمان تر نامه لاندې د Mycoherbizide ستوري يا سمارق يوه بيولوژيکي وسله جوړه کړې ده. د کوکنارو بوټو پر ضد وکار وي. په دغه وسله په ازبکستان کې اوس ازموينې ترسره کيږي. د مخدره توکو پر وړاندې مبارزه کې د امريکي حکومت غواړي چې پر افغان حکومت د زهرشيندولو عملي پلان ومني. کيداي شي چې د خلکو له وسلوال مقاومت او پاڅون سره مخامخ شي او ورسره ولسي خلک د پوځي مخالفينو سره يو ځای شي. دغه زهر شيندل به يوازې پر هغه کروندګرو باندې استعمال شي، چې په حکومت کې له هيڅ ډول سياسي رول يا ونډه نه لري. له يوې خوا به د دوي وروستۍ عوايد ځني واخستل شي. له بلې خوا به د کوکنارو کر بل وخت يا بلې سيمې ته ولېږد ول شي. د کولمبيا مودل به په افغانستان کې پلي کول يوه بله لويه غميزه وي. پر لويو ګروندو له هوا څخه زهر شيندل به د بزګرانو پر کورنيو بل بشري جنايت وي .

١٣ .سي آی ای او هروئين، نړيوال سياست او پر مخدره توکو سوداګري

له ١٩٧٢ کال څخه متحده ايالات د مخدره توکو پر وړاندې يوه ظالمانه جګړه پر مخ بيايي. په امريکا کې د مخدره توکو لرونکي او استعمالونکي په لږو نشه يي توکو باندې په سختو جزاګانو محکومه کيږي.

د دغه سياست بده اغيزه د مخدره توکو دبيې لوړيدل اوله نشه يي توکو څخه ناوړه ګټه اخيستل دي. ورسره له پنځوسو کلونو څخه د امريکي لوړپوړي حکومتي چارواکي د مخدره توکو په سوداګري کې ښکل دي. آن په خپل هيواد کې د مخدره توکو پر کر اوکښت او ترانسپورتي چارو باندې بوخت دي .

د نړۍ هيڅ بل هيواد نشته چې د هغه حکومتي چارواکي په نړيوالو مخدره توکو کې دومره ښکېل وي لکه د امريکي متحده ايالات. سي آی ای هروئينو سره سياست کوي. ورسره دوي خپله اغيزه په نړيواله سوداګري او د امريکي غوښتنې په نړۍ کې پلي کوي.

پروفيسور الفريد مککاي (Alfred McCoy, Professor an der University of Wisconsin ٨) په خپل کتاب کې چې د تاريا‌کو تاريخ په نوم منل شوي هم دي څو بيلګې وړاندې کوي.

لومړۍ بيلګه. د سي آی ای دقيق پلان شوي عمليات په دوهمې نړېوالې جګړه کې د ايټاليا له مافيا سره.

دوهمه بيلګه. له دوهمې نړيوالې جګړې نه وروسته کلونو کې د کوريسيکا جنايتکار سيندیکا څخه ويره ، چې د فرانسې د مغسي ښار په بندر کې د ټاکنو له لارې کمونيستان واک ته رسيدلي وو، په بري سره مات کړل.

دريمه بيلګه. د نيکاراګوا په پټه جګړه کې سي آی ای د مخدره توکو په قاچاق کې پيسې ترلاسته کړې.

څلورمه بيلګه. د لاوس رژيم پر ضد د سي آی ای اجنټانو ٣٠٠٠٠ کسيزه اجير پوځ جوړول او د دغه ولس د کروندې اقتصادي اصلي توکي اپين وو. د صادراتو لارې ساتل او دکمونستانو پرضد جګړه لاس په لاس کيدلو کې سي آی ای ونډه اخيستله او اپين د سي آی ای په الوتکو کې ترانسپورټ کيدل. سي آی ای په دغه کلونو کې د نړۍ د الوتکو ستره برخه په لاس کې لرله. د ويتنام د جګړې په پاى کې ٤٣ ٪ امريکايي پوځيان يا G I s په ويتنام کې په هروئينو روږدي وه. دغو پوځيانو درملنه او پالنه د هروئينو له لابراتوارو څخه کيده. دغه لابراتوارونه د سي آی ای له خوا

کاریدل یا د دوي تر ساتنې لاندې وو.
پنځمه بیلګه، د امریکي پوځي یرغل پر افغانستان د شمالي ټلوالي له قاچاق وړونکو سره د دوي همکاري او ګډکار چې پر طالبانو یې بري وموند، له غه برید راهیسي د کوکنارو کر ګلان داسي له ځمکې راوتلې چې تر اوسه یې ساری نه وولیدل شوي. دغه هیواد نن د اپینو یو اړخیزه کلتور لري، ورسره یې یو تاریخي ریکارډ ټینګ کړی دی. د هروئینو استعمالونکي به په نړی کې نور ګرم کړي. دغه کتاب ،، هروئین او سي آی اي ،، په متحده ایالاتواو نړیوال مخدره توکو سوداګري سیاست کې یو معیاري یا ثابت اثر دي، چې د پټو مخدره توکو د سیاست په اړه لیکل شوی دی .
د مخدره توکو سوداګري یوه استراتیژیکي وسله ده. کا جي بي. مخدره توکي د یوې استراتیژیکي وسلې په توګه د لویدیزو هیوادو، په خاصه توګه د امریکې په ضد استعمالوله، ځکه په لویدیزه اروپا کې هروئین له سروزرو ځخه دری ځله ارزښت لري .

Friedly fireویب پاڼې د یو خبر له مخې امریکایي پیلوټانو د افغانستان په جګړه کې Amphetamien , Speed استعمال کړی وه. چې له املې یې د هوایي بمباری پر مهال ډیری ناوړه او سختې تیروتنې تر سره شوي دي. د کانادا پوځ یو لښکر د امریکایي نشه پیلوټانو تر برید لاندې راغلي و، چې ځلور کانادایي سرتېری په کې ووژل شول. دغه پېښه په پوځي محکمه کې هغه وخت پای ته ورسیده، چې ثابته شوه پیلوټانو د امفیتامینو نشه کړې و. دغه توکي د امریکې په پوځ کې په مسلسله توګه ویشل کیږي. په دوهمه نړیواله جګړه کې هم دغه توکي استعمال شوي وو. دغه توکي د روحي،جسمي مقاومت په جګړه کې راوړله او د جنګي مورال کچه جګوي. د ا کیمیاوي توکي انګریزانو، جاپانیانو، اسرائیلیانواو روسانو په پوځونو کې استعمال شوي توکي دي .

۱۴ .د مخدره توکو بیې

هروئین د یو جنس په توګه په نړی کې معامله کیږي، د دغې توکو بیه د وړاندې کولو اوغوښتنو په ترڅ کې ټاکل کیږي. د م م په حواله یو کیلو ګرام خالص هروئین په افغانستان کې په یو زر ډالرو معامله کیږي، چې د تاجکستان په سرحد ورواوړي بیا دغه بیه ځلورځله پورته شي. د قرغزستان په یوه سیمه کې د یو کیلو ګرام هروئین بیه ۶۰۰۰ ډالرو ته ورسیږي. روسیې ته چې ورسیږي که خالص وي دغه بیه بیا لس واري نوره هم جګه شي. د سویس په ځوغیش ښار کې یو ګرام په سلو فرانکو خرڅیږي. د م م په بل رپوټ کې لیکل شوي، چې په سلو کې یوه سلې پیسې د مخدره توکو د کر په هیواد کې پاتې کیږي. ۹۹ ٪ پیسې د ترانزیټ هیوادو په بندرونو کې او استعمالوونکي هیوادونه له دغې سوداګری نه ګټه پورته کوي. د م م ځیرنو له مخه اټکل په نړی کې هرکال د اتو میلیارده ډالرو پورې مخدره توکي ادلون اوبدلون مومي. دغه شمیره د نړی د سوداګری ۸ ٪ جوړوي. چې په نړی کې د موټرو سوداګري اوصنعت خرڅولو ځخه ډیري پیسې دي. (۹) له دی نه مالومیږي چې د دغو پیسو لویه برخه د مخدره توکو نړیوالو مافیا تنظیم شویو باندونو جیب ته لویږي. افغانستان او افغانانو ته یې بدنامي، د مخدره توکو رویدي ټولنه ، د مخدره توکو توراقتصاد، اداري بې ساري فساد، جنایي جرایمو کلتوراو ټولنیز کړکیچونه پاتې کیږي او هیڅ یو افغان کروندګر له دغو حرامو پیسو ځخه کوم کور یا کلی نه دی ودان کړي. کله چې دا خبیث توکي کوم کور ته ننوځي، هغه کور له بنسټ ځخه ورانوي .

۱۵ .د مخدره توکو د قاچاقو لاري

ځنکه چې اوبه ځان ته لار مومي همدا شان د مخدره توکو قاچاق له افغانستان ځخه اروپا او امریکې ته لاره موندلې ده. دغه لاري د تاجکستان، ازبکستان، ترکمنستان، کوقفقاز،روسیه، بالقان، سویل ختیځي اروپا ځخه یا د ایران په لاره ترکیې ته بلغاریې ته له دغه هیواد ځخه اروپا یې مارکیټونو ته ترانسپورټ کیږي. له پاکستان ځخه د ایران بلوچستان ته او یوه برخه مخدره توکي د کراچي له بندر ځخه په سمندري لار منځنۍ ختیځ، افریقا ته او ترامریکې پورې رسیږي.
همداشان د مخدره توکو لپاره کیمیاوي توکي واپس په همدې لارو د هروئینوکارخانو او لابراتوارونو ته راځي. د مخدره توکو قاچاق وړونکي او مافیا په هر هیواد کې ټول په یوه لاس ښه تنظیم شوي په دغه کار بوخت دي. دوي له سیمه یزو کروندګرو، جنایتکارو مافیایې ډلو، د ترهګرو سره ټینګې اړیکې لري. په ښو موټرو او ستلایټي ګرځنده تیلفونو، د شپې لیدو وسایلو سره مجهز دي. دغه مافیایي ډلې له امنیتي ساتونکو او پولیسو ځخه ښې وسلې لري، دوي سرحدي سرتېرو، پولیسو ته بډې ورکوي اویا دوي له قاچاق وړونکو سره همکاري او فعاله ونډه لري اویه دغه نړیوال غیرقانوني سوداګري کې برخه اخلي. په دغو قاچاقو کې تل د سیاسي پوځي امنیتي چارواکو لاس وي. په دغه لویه لوبه کې د افغانستان او تاجکستان ترمنځه پر پولې ځای پر ځای شویو روسي پوځي ځواکونو لاس هم ښکېل دي .

۱۶ .کوم لاملونه دي چې خلکو د کوکنارو کښت ته مخه کړي ده ؟

سره له دې چې په افغانستان کې شدید قوانین نافذ دي او کنټرول یې نه کیږي، مخدره توکي اسلام مذهب حرام ګرځوالي دي. د دیرش کالنې جګړې ناورینونو او غمیزو ناوړو ټولنیزو حالاتو خوارځواکوته او بې روزګاریو ته لاره هواره

کړي ده. بې روز ګاري په ټول افغانستان کي ۷۵ ٪ ده، په سوېلي او ختيځو سيمو کي تر ۹۰ ٪ پوري رسېږي .د روغتونونو، ښوونځيو، سړکونو، توليدي فابريکو، وچکاليو، د اوبو او ځمکلو پاکي اوبه ، بريښنا د نشتوالي له امله د بزګرانو خوارځواکي، د ځمکو کمښت، له قانوني تعقيب څخه نه ډار، په دولتي ادارو کي بې ساري اداري فساد او بډي اخيستل د نشه يي توکو د کر او قاچاق سره نېغ په نيغه اړيکي لري. په هيواد کي ناامني د توپک او جنايي کلتور دودي په حال کي دی، نا امني، د جنايي جرمونو دکچې لوړوالی، د بشرحقوق، ولسواکي ته دګواښ له امله خلکو ته دغه زمينه نه ده برابره چې خپل کورنيوته يوه حلاله ډوډۍ راوګټي. د نړيوالي ټولني د معيشت د بديل او عام ګټو پروژو کمښت، د بزګرانو لپاره د کوکنارو په ځاي د بديل کښت نشتوالي فقر، بيوزلي، وچکالي په هيواد کي د کوکنارو د کر زياتوالي بل لامل دي. نا هېلي مخ په زياتيدو. د تارياکو توليد د نړيوالي ټولني د سياسي، اقتصادي، پوځي مرستو سره له کنټرول څخه په وتو مالوميږي. د مخدره توکو پروړاندي اغيزمن سياست، نشتوالي له امله، بې ثباته اقتصادي، د تارياکو اقتصاد، ټولنيزه او سياسي سيستم د حکومت کمزوري دريځوني اورګانونه لاکمزوري کوي. امنيتي ستونزي اونړيوالي مافيا له خوا د کوکناروکښت ته بز ګرانوهڅول بيا د دغه کښت پراختيا بل لامل دی چې له مخي يي هرکال دتېريدو په پرتله په افغانستان کي د کوکناروتوليد کچه مخ په لوړېدوده .

د ياد وني وړه چې يو شمير کروندګرو له دي امله د کوکنارو له کر څخه لاس اخيستی، چې د دی بوټي کر په اسلام کي ناروا او د انسانانو د وژلو سبب ګرځي. دوی وايي، چې دغه شر بوټی افغان ټولني ته بې کچه تاوان او کړکېچونه زېږولي .

۱۷ .د کوکنارو او نشه يي توکو د مخنيوي لاري

په افغانستان کي د مخدره توکو پر وړاندي يوه جګړه روانه ده. د کوکنارولە منځه وړلوپه وړاندي ډير خنډونه شته. د کوکناروکښت له منځه وړل په اړه منظمي ملي سترا تېژئ نشتوالی اوبيلابيلولنډ مهالوکړنلارو وړاندي کول هم يوله هغولاملونوڅخه دی چې له مخي يي په افغانستان کي د کوکناروکښت کچه لوړه شوی ده .حکومت مجبوراو مسوول دی، خپل له امنيتي او قضايي سيستم څخه کار واخلي. د قانون حکومت پلی کړي. پوليس يا ځارندوي اوځارنوالان وروزي، محاکم فعاله شي. حکومت بايد ستر مخدره توکي، قاچاق وړونکي او کروندګر ونيسي په زندان کي ايسارکړي او دهغوي نقدي پيسي ظبط او پرغريب ولس وويشل شي. ورسره ستر تبليغاتي کمپاين، ولسي پوهونه د عدليي، د کورنيوچارو، د مخدره توکو پروړاندي مبارزې، کرنې ، ښووني او روزنې، وزارت او د اطلاعاتو او کلتور وزارتونه يوه عملي هراړخيزه طرحه د ديني عالمانو، قومي مشرانو، د اغيزي خاوندانو په ګډون او نړيوالو تجربوته په کتنې سره مرستې ترتيب کړي، نړيوال پوليس يا انيترپول، د م م د مخدره توکو پروړاندي مبارزې دفتر، د راديو، ټلويزيون، فلم، اعلانونو، پوسترونو او ډله ييزو رسنيو، ورځپاڼو ټولو لپاره د مخدره توکوپروړاندي يو سترملي ستراتيژيکي پلان بنسټ جوړ شي. د مخدره توکو پروړاندي ولسي ويښونه، پوهونه او د ولس مورال د مخدره توکو ضد جګړې په وړاندي اوچت کړل شي . نړيواله ټولنه پوهيږي او وپوهول شي چې افغانان خپله ټولنه له مخدره توکو څخه خلاصول غواړي. نړيواله ټولنه د مخدره توکو پروړاندي مبارزه کي ورګډ کړل شي ، ځکه د وي هم دغو کړکېچونو مسوول دي. دوي له سترې ازموينې سره مخامخ دي.

له نشه يي توکو سره د مبارزې غوره لار کروندګرو ته د مناسب بديل کښت پيدا کول له قاچاق وړونکو او مافيايي ډلو سره د دولت پريکنده چلند او له دولتي څوکيو څخه د هغو کسانو ګوښه کول چې د مخدره موادو په کر، توليد او ليږد کي لاس لري، که دولت اوچت ګامونه پورته نه کړي ، افغانستان به يو ځل بيا د تروريزم په ځاله بدل شي او افغانستان به په نړۍ کي د مخدره توکو هيواد د تل لپاره وپېژندل شي. د کوکنارو کښت ،توليد، قاچاق او د تارياکو اقتصاد د بهرنيو پوځي يرغلونو څخه، د تنظيمي جګړو، له ترهګرو جګړو څخه افغانستان ته ستر ګواښ پېژندل شوی دی.

د ايتاليا هيواد وړانديز، په افغانستان کي د اپينو کر قانوني کړل شي. دوی غواړي چې د مارفينو توکي د دردونو، سرطان، ايدز Aids ناروغيو په درملنه کي استعمال شي. په افغانستان کي به د کروندګرو دژوند کچه هم ورسره ښه شي. دا وړانديز شونی نه دی .ځکه ځنګه افغانستان غوندي يو هيواد د خپل دريولسيزو کړکېچونو، بې ساري اداري فساد، سياسي، امنيتي ناوړوحالاتو سره د نړيوال منل شويو نورمونو، کوکنارو کر لپاره امنيتي شرايط په متوازن ډول په ټول هيواد کي جوړ او وځاري؟

د م م International Narcotic Contral Bords دفتر په قانوني توګه د اپينو کر او توليد په هند، استراليا، فرانسه، ترکيه کی ځاري، چې دغه هيوادونه ټينګه با ثباته ولس واکي او امنيتي سيستم لري. په يو بې ثباته او بې قا نونه هيواد کي د کوکنارو د قانوني کر د ځارني هيڅ ډول امکانات نشته .

د کوکنار د کر او قاچاقو کاروبار مخه په هر ډول چې وي بايد ونيول شي. حکومت بايد د نشه يي توکو د کاروبار د مافيا لوړ وکړي د خپلو امنيتي اورګانونو ځحه پاک کړي. د کوکناروکروندګرو سره چلند دا سي نه چې کروندګرو يوکال د کوکناروکر پالنه کړي وي، کروندګرله همدي امله پور وړي وي او د کوکنارو بوټي پخه ولاړل وي. د حکومت امنيتي چارواکي بې خبره ورشي او د کوکنار په لرګيو او تراکتورونو اړولو يي له منځه يوسي. د حاصلاتو د ټولولو مخه يي

نيسي. د حکومت دا عمل په خپله په ټولنه کي د تاوترخوالی لپاره لاره هوار ول دي. د چارواکو ناسم سياست يوه لړی ده .
ځيني بيا وايي چي د مخدره توکو پروړاندي د طالبانو له تجربو، ميتودونواو ستراتيژي څخه بايد کار وخيستل شي. څنګه چي د طالبانو مشر په يوه فتوا کي د اپينو کر اوتوليد په يومخ منع کړو، د کوکنار د کر يې په قانوني توګه کر تر جزا لاندي راوستل. هغه مهال د امريکي بهرنيوچارو وزير طالبانو ته د ٤٢ ميليونو ډالرو مرستو اعلان هم وکړ .
لنډه دا چي، خلک بايد ويښ او فعال کړل شي او درک کړي، چي د دوي له کلتور او راتلونکو نسلونو سره جګړه ده. د دوي کلتور له منځه وړل کيږي. د افغانانو ملي ويارونه خړپړ او له منځه وړل کيږي. دا د دوي ژوند دي چي د دوي څخه اخيستل کيږي. د دوي ماشومان، ځوانان او راتلونکي نسلونه څنګه مخدره او نشه يي توکو ته يو په بل پسي راکښل او وردوب کيږي. دوي بايد پرېکړه وکړي چي دوي به څنګه په يوه نړی کي ژوند کول غواړي. حکومتونه خپلي سياسي موخو، ګټو او واک لاسته لاوړلو باندي اخته دي. دوي د ولس او خلکو څخه استازيتوب نه دي کړي او په دي ډول يې نه شي کولای. د مخدره توکو توليد، جنايات اوغيرقانوني سوداګري د قانوني سوداګري په له منځه وړلو کي پوره ونډه اخلي. که خلګ يا تاسي له دوو څخه يو انتخاب سره مخامخ کړل شي، چي يا به يې زغمي يا به وژل کيږي .تاسي به څه وکړي ؟
افغانان مجبور دي هغه شی له منځه يوسي، څه شي چي دوی په خپل هيواد کي له منځه وړي .

اخځونه

١ Busines Standert (New Dehli 02.03.1996
٢ Siehe die Untersuchung zum Drogen gebrauch 1993 der pakistan Narcotics Control Division

(Gov. Af pakistan / NCD 1994)

٣ The WTC. Conspiracy XIV , TELEPOLIS, Mathias, Bröckers 10.10.2001

٤ UNDCP- Projkt RAS / 1994 / 890
Strengthening Law Enforcenmen Capacities in the Boeder Areas af the Southwest Asian Region . Owens / Clifton په کال ١٩٧٢
٥ Nathan / Berger 1992 : 8.
٦ The Guardian .Taliban Tolift Ban on Farmers Growing Opium if US attacks 25.09.2002
٧ Finalcial Times 18.02.2002
٨ . دغه کتاب د ديرشو کلونو مخدره توکو موضوعات څېړلي دي. پرفيسور مککاي د سي آی اي له خوا ګوابنل شوي هم دي. بناغلي مککاي د ، ستربنه سړي،
جايزه يي ترلاسه کړي ده. سي آی اي هڅه وکړه چي دغه کتاب له منځه يو سي خو ناکامه شوه-Grant Goodman .
٩ د تبصره ليکي. څنګه سي آي اي او د امريکي بهرنيو چارو وزارت د مخدره توکو باس ي يويو New York Times مشرانو سره مرسته کړي ده او ثبوت وړاندي کوي چي دوي څنګه د مخدره توکو په قاچاقو کي بنکل دي .
www. Unodc.org .